**د معلم په توګه د شاګردانو سره د رسول الله کړنلاره او په زده کړو یې اغېز**

**ترتیبوونکی: پوهنمل سیدهاشم آمین**

**لنډیز**

اسلام د ټولو دینونو او بشري مکتبونو په سر کې علم ترلاسه کولو ته خلک رابللي، د دغې مقدسې لاست راوړنې لپاره یو شمیر کړنلارې مخې تــــه ړدي او بیا یې د دغه هدف څرګندې اغیزې بیان کړي دي، د دغې فریضــې د زده کړې لپاره الله تعالی خپل اســتازي ته په زده کولو او ورزده کولو امر کوي: (اِقراء بِاسم رَبِک...)

د الله پیغمبر صلی الله علیه وسلم د همــدې لارښوونې پراساس خپله دنده د ښوونې او روزنې په بڼه د ستر معلم په څېره کې وړاندې کړه. هغه خپلو شاګردانو ته په تدریس کـــې ګټـــورې لارې چارې غـــوره کـړې، ترڅـو اغېزناکه ښـوونه وړاندې کړي. هغه پوهیده، چې ښوونیزه دنده یوه ستره او پیچلې دنده ده او ډیر زیات زیار او کوښښ غواړي، د ترسره کولو لپاره یـــې هـم بایـد سمه کړنلاره غوره شي، له همدې امله په معاصره زمانه کې د علم د خپـراوي او ترلاسـه کولـو لپـاره غوره کـړنلارې او میتودونه د تعلیم او تربیې پــه لومړي سر کـــې دي او د واضحې او روښانه کړنلارې پر شــتون ټینګــار کیــږي، د رسول الله ﷺ ښوونیزه او روزنیزه کړنلاره بشریت تـه لـه فـیض او برکـت څخه ډکې لاس ته راوړنې لري او موږ د مسـلمان اُمت په توګه مکلف یو ترڅو د هغه (صـلی الله علیه وسـلم) په کړنلارو خپل ځان عیار کړو.

کلیدي اصطلاحات: ښوونکی، سُنت، ښوونه، روزنه، کړنلاره، اغیزې.